مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۶/۱۹

تر روغتون پاک چرګفارم

د حاجي صاحب حسام په اړه یوه خاطره

ځنګه چې د فارم په وره ورننوتو، موټر مو له یوه کانکریټي لیندۍ وزمه ډنډوکي تېر شو چې تقریباً نیم متر ژور و. ډنډوکی له داسي اوبو ډک و چې میکروب وژونکي مواد په کې اچول شوي وو او د موټر ټیرونه یې پاکول.
شپه وه. د لاسي ځراغونو په رڼا مو لاره سموله. حاجي صاحب محمد حسن حسام راته د فارم په اړه معلومات راکول. د مالتې، کینو او نارنجو ونې یې راوښودې چې ځینې یې دري کلنې وې او د ځینو کال پوره و. نیالګي د نظامي قطعو په شان په منظمو لیکو ولاړ وو.
د چرګانو پخو کانکریټي انګرونو ته ورسېدو. هر انګر پر کانکریټي ستنو له ځمکې دوه – دوه نیم متره لوړ په هوا کې ولاړ، د غولي په دوو منځنیو برخو کې یې د جالۍ اوږده لیکه چې د چرګانو سرې تري رالاندې تویېږي او هوا په کې چلېږي، دېوالونه جالۍ او شا و خوا ته یې د بوجیو ډبل رخت تاو شوي چې پر سر یې د اوبو نلونه غځېدلي او دوامدار یې لندوي چې چرګانو ته معتدله هوا برابر کړي او له ګرمۍ یې وساتي. د هر انګر خوا و شا ته د کلیپټوس ونې بیا دي ته درېدلي وي چې کافي آکسیجن تولید کړي، حشرې راوګرځوي او هوا نرمه کړي. کله چې مو وغوښتل د یوه انګر پر اوسپنیزو زینو پورته شو، کاریګر له یوې بوجۍ پر ځمکه باندې چونه تویه کړه. بوټونه مو په چوني پاک کړل او بیا انګر ته ننوتو.
د انګر غولی داسي پاک چې ذره ګرد او چټلي په کې نه ښکارېده. چرګې په درېو – څلورو پوړونو کې په سیمي ځالو کې منظمې ناستې وې. ټولې تکې سپینې. ما په تلویزیون کې ځینې فارمونه لیدلي وو چې د چرګانو بنکې تویې شوې او یو رقم پمن غوندې ښکارېدې خو دلته ټولې چرګې په ښکلو بنکو کې پټې او روغې وې.
دا فارم د جلال آباد هډې ته نږدې په دوه سوه جریبه ځمکه کې جوړ دی. پر داسي ځمکه چې پخوا وچ سپېره شګلن او له ډبرو ډک ډاګ و خو اوس په یوه سمسوره سیمه بدله شوې ده. ښایي دا به په وطن کې تر ټولو لوی چرګفارم وي ځکه چې 500000 (پنځه لکه) چرګې او چرګان لري، هره ورځ تقریباً څلور لکه او شپېته زره هګۍ تولیدوي، او په هرو 21 ورځو کې دوه لکه او لس زره چرګوړي باسي چې دا چرګوړي بیا نورو وړو فارمونو باندې ویشل کېږي.
موږ چې د چرګوړو د تولید برخې ته تلو، بوټونه یې راباندې وایستل او چپلکي یې راکړي. د دې کوټو غولي او دېوالونه زموږ تر اکثرو روټونونو پاک وو. دا برخه یوطرفه لاره لري، یاني پر هماغه لاره چې ورننوتلی یې ببرته ځني نه شي وتلی، باید د ودانۍ په بل سر کې له بل وره څخه ووځي. دا تدبیرونه د میکروب د انتقال مخه نیسي.
په دې چرګفارم کې خوا و شا 280 کاریګر کار کوي. د عمومي وره د باندې یو لوی کانټینر ایښی دی او هر کاریګر چې راځي، په دې کانټینر کې کالي بدلوي، د فارم یونیفورم اغوندي او بایسیکل هماغلته دروي.
د چرګانو او چرګوړو خواړه هم په فارم کې د ننه جوړېږي. په یوه لوی انګر کې د مختلفو حبوباتو ګونۍ کتار ایښي دي. ژرنده ګړي یې اوړه کوي او سره ګډوي یې. د فارم په بله خوا کې بیا داسي ماشین لګېدلی چې د چرګانو سره د سوند په ګازو بدلوي.
له ژورو څاه ګانو د لمر وړانګې اوبه راباسي، یو لوی ډنډ چې تقریباً شل په لس مترو کې دی، د ورځې له خوا ډکېږي او د فارم ونې خړوبوي.
د فارم په لیدو په څو دلیلونو خوشحاله شوم. یو، خورا منظم او معیاري دی. دوه، سلګونو کورنیو ته یې د حلالي نفقې د ګټلو زمینه برابره کړي ده. دري، یو وچ سپېره ډاګ یې په سمسور باغ بدل کړی دی. څلور، واټرپمپونه یې په لمریزه انرژي چلېږي چې وړیا ده او د ژوند چاپېریال ته تاوان نه رسوي. پنځه، له سرو څخه د ګازو تولیدول د چاپېریال ساتنې او وړیا انرژۍ د ګټلو بله نمونه ده.
کاشکې د وطن ټول شتمن همداسي کار و بار جوړ کړي چې خیر یې وطن او وګړو ته ورسېږي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ